اصل مضمون: تائید ۲۰۵
اصلاح نهایی گردید: فولدر مضامین چاپ شده برج جدی ۱۳۹۷

# د نیشه یی توکو پر وړاندی جدي مبارزه یو لومړیتوب دی

شاه محمود درویش

دنیشه یی توکو کرکیله، تولید، قاچاق، تر افیک اوتر انزیت داسلامی اصولو پربنا حرام بلل شوی او د افغانستان د نافذه قوانینو په رڼاکی هم ددغی منفوری پدیدی کرکیله جوازنه لری او عاملین یی د مجازاتو وړګڼل کیږی خوسره له دی هم دهیواد دځینو ولایتونو په اړوندو سیموکی په ځانګړی توګه هغه سیمی چی دافغانستان د اسلامی جمهوری دولت د وسله والو مخالفینو ترکنترول لاندی دی په زیاته کچه مخدره توکی کښت وقاچاقیږی او دهمدغو توکو د پروسس په موخه دقاچاقبر انو له لوری ځینی فابریکی هم جوړی شویدی، خوسره له دی چی ددغی ناوړی پدیدی کرکیلی، پروسس او قاچاق هیواد والوته امنیتی ننګونی رامنځ ته کړی ددی ترڅنګ زمونږ ګڼ شمیر هیواد وال هم پردغی کرغیړنی پدیدی روږدی شویدی چی د امنیتی ننګونو ترڅنګ دایوه بله ستونزه ده ځکه چی په مخدره توکو روږدی کسان سربیره پردی چی دسالم کار او روزګارپروړ اندی خپل مقاومت له لاسه ورکوی ترڅنګ یی خپلی کورنی ته یو سرخوږی هم را منځته کوی او بالاخره پرمخدره توکو روږدی کسان په خپلی کورنی سربیره پرټولنه هم یو بارګڼل کیږی او په بیلا بیلو برخوکی دټولنی عامه نظم ګډوډ اوبی ثباته کوی نوپردی اساس ددغی منفوری پدیدی پروړ اندی دافغان دولت ترڅنګ دافغان ولس رښتینه مبارزه هم ډیره اړینه ده، دیادونی وړده چی افغان امنیتي ځواکونو دنیشه یي توکو او تروریزم پروړ اندې همغږې اورښتینې مبارزه هم پیل کړې او دنیشه یي توکو دکښت، قاچاق، پروسس او فابریکو دله منځه وړلو لپاره یې کوټلي ګامونه اخیستی دي، دا ځکه چې له یوې خوا دمعتادینو شمیرزیاتیږي او دټولنې دبربادي اوویجاړی سبب ګرځي له بلې خوا ټولې ترهګرې ډلې له نیشه یي توکو څخه دمالي سرچینو په توګه ګټه پورته کوي، زیاتره وسلې او جګړه ییز تجهیزات له دې لارې لاسته راوړي، په دې ډول په نړیواله کچه دبشرژوند او هراړخیزه هوساینه ګواښوي اوله منځه یي وړي نو په افغانستان کې دهمدغې ناوړې پدیدې دکښت، قاچاق، پروسس او تر افیکو له کبله په ټولیزه توګه ننګونې رامنځ شوي چې له امله یې حکومت اوولس دواړوته سرخوږی پیدا کړی دی، البته دنیشه یي توکو پروړ اندې دنړیوالې مبارزې په لړکې جګړه ځپلی افغانستان هم یوله هغو هیوادونو څخه دی چې په پرله پسې توګه یې ددغوزهري توکو پروړ اندې مبارزه جاري ساتلې ځکه چې افغانان دنیشه یې توکوله کښت، قاچاق او استعمال څخه و اقعاً ډېر زیانمن شوي دي، خوله دې ټولو سره سره بیاهم حکومت دنیشه یې توکو دمخنیوي او دتروریزم پروړ اندې درښتینې مبارزې لپاره کلك هوډ لري په هیواد کې د ډله ییزو خپرندیو سرچینو په حواله ویل شویدی چی په دې وروستیو کې له نیشه یې توکو سره دمبارزې وزارت ویلي چې دتروریزم او مخدرو توکو دقاچاق کوونکو ترمنځ اړیکوله نیشه یې موادو سره مبارزه ګر انه او ټکنی کړې. دګاونډیو هیوادونوله لارې نړیوالو بازارونو ته دافغانستان دنیشه یي توکو قاچاق اساسي عامل ګڼل کیږي. په افغانستان کې د نیشه یي موادو دتولید زیاتوالي ته په پام سره دافغان ځواکونوله لوري د نیشه یي موادو دقاچاق کوونکو نیول دسیمې په کچه بې سارې لاسته راوړنه ده، په دې وروستیو کې ترهګرو له نړیوالې مافیا اوداخلي وسله والو سره لاسونه یوکړي او په سیمه کې یې پرناامنۍ سربیره دنیشه یي موادو قاچاق ته هم زمینه بر ابره کړې ده، البته دوه عمده عوامل چې یوې په افغانستان کې مخدر مواد په جرمي اقتصاد بدل شوی دی، له ټر انزیټي هیوادونو نیولی بیا ترهغو هیوادونو پورې چې نیشه یي توکي غواړي، دایو فوق العاده تجارت دی چې نړیواله مافیاترې ډېره ګټه ترلاسه کوي، دویم اړخ یې دادی چې نیشه یې مواد په افغانستان کې دتروریزم دتمویل ستره سرچینه ګڼل کیږي، تروریستان او د مخدرو موادو قاچاق کوونکي په خپلو کې سره اړیکې لري او هغه کسان چې ددولت دوسله والو مخالفینو په لیکو کې ولاړدي، دحکومت پروړ اندې دجګړې ترڅنګ دنیشه یي موادو قاچاق هم کوي. په افغانستان کې دمخدرو موادو دکښت اوتولید زیاتوالي ته په کتو سره په افغانستان کې د نیشه یي موادو غوښتنه ډېره کمه شوې، خوپه افغانستان کې ټول تولید شوي مخدر مواد، دنړیوالو مافیایي ډلوله خوا بهرنیو هیوادونو ته چاقاق کیږي، چې په دې توګه هم نړیوالې مافیایي کړی له دې لارې ډېرې ګټې ترلاسه کوي، خو زیان یې سل په سلوکې افغانستان ته رسیږي، ځکه چې دهمدغو دواړو ناوړو پدیدو له امله هیواد او هیوادوالو ته نه جبیره کیدونکي زیانونه وراوړي. که چیرې دسیمې اونړۍ حالاتو ته پام وشي دا و اقعیت ترسترګو کیږي چې نیشه یي توکي او تروریزم هغه دوې ناوړې پدیدې دي چې دنړیوالو ژوند اوهوساینه یې له یولړ جدي ستونزو اوګواښونو سره مخ کړې ده، پر دې بنسټ ډېره اړینه او ضروري بریښي چې په ټولنیزه توګه د اړوندو هیوادونو له لوري دمخدرو موادو اود تروریزم پروړ اندې جدي او هراړخیزه مبارزه وشي او پرضد یې جګړه لاګړندی شي چې په پایله کې دافغانستان په شمول اړوند هیوادونه دیادو ناوړه پدیدو له شره دتل لپاره وژغورل شي او په ټولنه کې وګړو ته دهوسا ژوند دپرمخ بیولو په موخه له هره پلوه ډاډمن او سوله ییز چاپیریال بر ابرشي، په دی هیله چی په سیمه ییزه او نړیواله کچه داړوندو هیوادونو له لوری د نیشه یی توکو او تروریزم پروړ اندی مبارزه په بشپړه همغږی پرمخ یووړل شی ترهغه چی په پایله کی دغه دواړه منفوری

پدیدی چی دافغانستان په شمول د اړوند هیوادونه نظم او ثبات یی زیانمن کړیدی، مخه یی ډب او په ټوله کی دبشریت هوساینه خوندی شی.

د یادونی وړده چی په هیواد کی د کرنیز بهیرپراختیا هم یولومړیتوب دی ځکه چی په ټولنیزه توګه دهیواد په سلوکی کابو اتیا سلنه خلک دکرنی، مالداری او بڼوالی په چاروبوخت دی نوپه کارهم همداده چی ددغه بهیرودی او پراختیا ته بیا ډیره پاملرنه وشی او دافغان دولت له لوری باید دهیواد په مرکز او ولایتونوکی قدرمن بزګر انو ته دهراړخیزو آسانتیاوو په بر ابرولو سربیره په مناسبو وختونو کی داصلاح شویو تخمونو او کیمیاوی سری مرستی هم وشی ترهغه چی له امله یی دوی له خپلی کرکیلی څخه پریمانه حاصلات، غلی او دانی ترلاسه کړی چی له امله یی د دوی د اړتیاوو د پوره کیدلو ترڅنګ په هیواد کی هم غلی دانی پریمانه شی، له نیکه مرغه چی په دی وروستیو کی په هیواد کی د ډله ییزو خپرندویو سرچینو په حواله ویل شوی چی په بغلان ولایت کی په مخکښو بڼوالو د بڼوالی وسایل ویشل شویدی، دبغلان ولایت دکرنی، اوبو لګولو او مالداری رئیس له قوله ویل شویدی چی دغه ریاست ددغه ولایت په شلو تنو مخکښو بڼوالو د بڼوالی په برخه کی د بڼوالوکاری ظرفیت د کچی د لوړولو، دبڼوالی د محصولاتو د راټولولو دکرنیزو آفتونو او ناروغیو د له منځه وړلو او دمحصولاتو زیاتوالی ته د بڼوالو د هڅونی په موخه د بڼوالی وسایل ویشلی دی چی په دغو وسایلوکی د ځانګو د غوڅولو بیاتی، د میوو دراټولولو ټوکری، زینی، درمل شیندونکی او ترپال شامل دی، په دی هیله چی په ټولنیزه توګه د هیواد په ګوټ ګوټ کی پر کروندګرو په مناسبو وختونو کی اصلاح شوی تخمونه، ډول ډول نیالګی، کیمیاوی سری او لازم وسایل دافغانستان داسلامی جمهوری دولت د اړوندو مسئولو مراجعو له لوری وویشل شی، ځکه جی له قدرمنو بزګر انو سره هرراز مرسته ددی سبب کیږی چی هغوی په خپلو کروندوکی دحرام کښت یعنی د کوکنارو د کرکیلی پرځای حلال کښت ته مخه وکړی، البته لازمه هم ده چی قدرمن بزګران باید په اګاهانه توګه دیته وهڅول شی چی په خپلو مځکو کی د نیشه یی توکو دکرکیلی پرځای حلال کښت ته مخه وکړی، همدارازدی ټکی ته موهم باید پام وی چی نیشه یی توکی د یوخاموشه طوفان په څیرټولنه له ګواښ سره مخامخ کوی او دتروریزم ترڅنګ داهم هغه ناوړه پدیده ده چی په تدریج سره او بیا په ځانګړی توګه د ځوان نسل روغیتا او سلامتیا زیانمنوی او خوړژوند یی له اوږد مهاله رنځ ، ناهیلی او مرګونی ګواښ سره مخامخوی، حقیقت بیا دادی چی د تروریزم او نیشه یی توکو د کښت، قاچاق، پروسس او تر افیک ترمنځ مستقیمه اړیکه هم شتون لری، ځکه چی ترهګریزی کړی د نیشه یی توکو له لاس ته راغلو پیسو څخه د مالی سرچینو په توګه ګټه پورته کوی او په دی ډول په نړیواله کچه د بشریت سوله او هوساینه ګواښوی، د نیشه یی توکو پروړ اندی د نړیوالی ټولنی د مبارزی په لړکی افغانستان هم یوله هغو هیوادونو څخه دی چی په پرله پسی توګه ددغه زهری توکو پروړ اندی یی خپله مبارزه جاری ساتلی ده ځکه چی افغانستان د نیشه یی توکوله کښت، استعمال او قاچاق څخه ډیرزیانمن شویدی خوسره له دی هم پروړ اندی یی د رښتینی مبارزی هوډ لری او په دی برخه کی افغان حکومت یولړتدابیراو پلانونه هم ترلاس لاندی لری، لکه څنګه چی دنیشه یی توکو پرخلاف د مبارزی چاروو وزارت هلی ځلی پیل کړی چی دنیشه یی توکوله کرکیلی او قاچاق سره د مبارزی په موخه د نورو بنسټونو همکاری هم راجلب کړی، البته دیاد وزارت چارواکی په دی باوردی چی له مخدره توکو سره مبارزه یوازی ددغه وزارت کارنه دی، بلکی ټولی اداری، بنسټونه او خلک دی باید د نیشه یی توکو دتولید، قاچاقو، پروسس او کارولو په مخنیوی کی کارنده ونډه واخلی، دیادونی وړده چی د تروریزم او ترهګری ترڅنګ بله ناوړه پدیده چی له یوه پلوه یی د هیواد امنیت، نظم او ثبات ګډوډ کړی او له بله خوا ګڼ شمیر افغانان هم پری روږدی شویدی هغه همدا نیشه یی توکی دی، نو ددغه ناوړه پدیدی د کرکیلی دمخنیوی په برخه کی د دولت د اړوندو ارګانونو ترڅنګ باید ولس هم په آګاهانه ډول لاس په کارشی ترهغه چی افغانستان ددغی ناوړه کرکیلی څخه پاک او دهیواد د ځو انانو په شمول نوروګړی هم ددغه زهری آفت له ګواښ څخه په تلپاتی ډول خوندی شی او دوسله والو مخالفینو د یولړعایداتی سرچینی په وچولو چی له همدی لاری په لاس ورځی هغه هم په بشپړه توګه وچی شی او بالاخره په پایله کی ډاډمن امنیت او نیکمرغه سوله دافغان پتمن او جګړه ځپلی ولس په برخه شی او په ټوله کی کلونه کلونه جګړه ځپلی افغانان دنیشه یی توکو او تروریزم له منفورو پدیدو څخه په تلپاتی ډول خوندی او په امن کی شی او په دی ډول په ټولیزه توګه په ټولنه کې ټولو وګړو ته دهوسا ژوند دپرمخ بیولو په موخه له هره پلوه ډاډمن او نیکمرغه سوله ییز چاپیریال بر ابر شي.